نبوي مرغلري:

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:
ژباړه: که څوک د توان او مالي وس لرلو سره، چا ته خپل قرض او حق نه ور کوي، له الله تعالی سره به په داسي حال کي مخ سي، لکه غل او لوټ مار.

﴿صحیح الجامع﴾

طلوع افغان

پخې ویناوي:

مولانا جلال الدین بلخي رحمه الله:
ستاسو تر ټولو ښه ملګری هغه دی چي ستا د خبرو او ږغ څخه؛ ستا د غم او خوشحالۍ اندازه واخلي.

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"   د امتیاز څښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ ریاست   په اوونۍ کي دوه واره چاپیږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، پنجشنبه ۱۳/ذوالقعدة الحرام/۱۴۴۷ هـ ق، ۱۰/غویی/ ۱۴۰۵ ل کال – ګڼه (۸)   Thursday-30-April-2026 Issue: 8

د مطالبو سرلیکونه



عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د مالیې وزارت د مسؤلینو لپاره په جوړ شوي سیمینار کې ګډون او وینا وکړه

دافغانستان اسلامي امارت مرستیال ویاند ملا حمدالله فطرت خبر ور کړی، چي عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۷/۱۱/۱۲ هـ ق د مالیې وزارت د مسئولینو له پاره په جوړ سوي دوه ورځني اصلاحي او روزنیز سیمینار کي چي د مالیې وزیر، معینانو، د ولایتونو مستوفیانو، همداراز د مرکزي دارالافتاء عمومي رئیس، د جهادي مدرسو عمومي رئیس، د دیني خپرونو د نظارت او کره کتنې اداري رئیس، د کندهار والي او د کندهار ولایت د ریاستونو رئیسانو او یو شمېر نورو علماء کرامو او مسئولینو برخه اخیستې وه، ګډون او وینا وکړه. سېمینار د قرآنکریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل سو، ورپسې عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د سېمینار ګډونوالو ته لازم هدایات او مهمې توصیې وکړې.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی زیاته کړه: «زموږ مسئولیت د الله جل جلاله د شریعت عملي کول دي او د هر کار له پاره چي مقرر سوي یاست، پر تاسو د هغه کار شرعي زده کړه فرض ده.» او زیاته یې کړه، «د علماء کرامو نصیحتونو ته غوږ نیسئ، نېکي مشوري یې اورئ، پوره احترام او قدر یې کوئ، ځکه د علماء کرامو په قدر او عزت سره اسلام عزتمند کېږي او بل د حکومت د خلکو مسئولیت دا دئ: ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ، چي د مجاهدینو په ټولو کي مهم هدف دادی چي لمونځونه او شرعي احکام به اقامه کوي، د جمعې لمونځ به د مسلمانانو د شرعي امام له خوا او د هغه په اذن او اجازه اقامه کوي او د مسلمانانو له لوري شرعي امام د اسلامي احکامو د تنفیذ له پاره دی، زموږ مسئولیت اول پر ځان او بیا په خلکو کي د الله تعالی د شریعت عملي کول دي، نو اول خپل ځان په دین پوه کړئ او بیا خلکو ته د الله تعالی احکام ورسوئ، ورته بیان یې کړئ او په دین یې پوه کړئ او د هري کچې مسئولین چي یاست، دینداری ته ډېره توجه وکړئ!»

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی مسئولینو ته په خطاب کي وویل: «په ګمرکونو کي چي تاسو کوم محصولات جمع کوئ، دا د خلکو پیسې دي، نو دا بیت المال دی، ډېر احتیاط کوئ چي بې ځایه دا مال مصرف نه کړئ، تاسو مسئولین یاست، پر تاسو لازمه ده چي اوس به د بیت المال په مسائلو ځانونه پوه کوئ او علم به ور باندي راولئ، دا مالونه چي تاسو جمع کوئ، دا بیت المال دی، داسي معامله به ور سره کوئ، لکه: د یتیم له مال سره او کوښښ وکړئ چي دا مالونه د خلکو په عامو مصالحو کي مصرف سي، نه په شخصي مصالحو کي.»

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د خپلي وینا په آخر کي وویل: «ځانونه خادمان ګڼئ، په کارونو کي غفلت مه کوئ، په غیر مقصودي کارونو کي ځانونه مه مصروفوئ، که د غفلت څخه تاوان پېښ سو، بیا غفلت عذر نه دی، خپلو ملګرو ته توجه وکړئ، ځکه د هغوی د نیمګړتیاوو مسئولیت هم ستاسو دی، کوښښ د دې وکړئ چي امانت داري مو له منځه ولاړه نه سي، ځکه له امانت دارۍ سره ایمان تړلی دی، که امانت داري ولاړه، ایمان ورسره ځي، د خپلو شخصي ګټو پر ځای، عامه مصالحو ته متوجه سئ، تاسو امتیاز ځان ته مه ور کوئ، تواضع کوئ، د دیني شعائرو ساتنه کوئ او له خلکو سره سختي مه کوئ، له خلکو سره اساني کوئ، خلک د الله تعالی له رحمته مه مایوسه کوئ، ځکه الله پاک توبه قبلوونکی دی او خلک په نفرت کي مه اچوئ، خلک له جماعت سره عادت کړئ، خپل لمونځونه مو هم باید په جماعت سره وي، له خلکو سره په لمانځه کي یو ځای کېږئ، که تاسو غواړئ چي اسلام ته قدر ور کړئ، نو له علماء کرامو سره ناسته کوئ، باید ستاسي د مجلس خلک صالحان وي او د خلکو د حاجت پر مخ دروازې مه بندوئ، له خلکو سره نژدې اوسېږئ، تر څو خلک تاسو ته درسي او ستاسو سیاست له نژدې وویني، مسئولیت داسي چا ته مه ور کوئ، چي اهلیت یې و نه لري، خپل ماتحت ملګري خپلو وظیفو ته متوجه کړئ، تر څو د خلکو په کارونو کي ځنډ رانه سي، خلکو ته په کارونو کي اسانۍ جوړي کړئ، تر څو ښه خدمت وکړای سئ.» او په پای کي ټولو علماء کرامو او مسئولینو یووار بیا له عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی سره خپل بیعت او تعهد تجدید کړ او ژمنه یې وکړه چي د خپل شرعي نظام په حاکمیت کي به پوره کوښښ کوي.

مجلس نظام او خلکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له خوا د دعایې په لوستلو سره پای ته ورسېدی.

د بهرنیو چارو وزیر: د افغانستان او روسیې تر منځ دي دوه اړخیز تعاملات لا ډېر پراخ سي



د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي، د سه شنبې په ورځ د روسیې فدراسیون د ولسمشر له ځانګړي استازي ضمیر کابلوف سره کتلي دي.

باختر اطلاعاتي آژانس ته د بهرنیو چارو وزارت د ویاند دفتر د معلوماتو له مخي، په دې کتنه کي دواړو لورو د سیاسي اړیکو او اقتصادي همکاریو پر پراختیا هر اړخیز بحث کړی او تینګار یې کړی چي د دواړو هیوادونو ترمنځ دوه اړخیز تعاملات لا ډېر پراخ سي.

د هیواد د بهرنیو چارو وزیر په خپلو خبرو کي د افغانستان او روسیې ترمنځ، د اړیکو پراختیا د هر کلي ترڅنګ؛ تینګار کړی چي دوه اړخیز تعاملات باید لا پراخ سي.

هغه د اقتصادي همکاریو د پراخولو، د ګډ اقتصادي کمېسیون د فعالېدو او د سیاسي مشورو د منظم چوکاټ پر رامنځته کېدو هم تینګار کړی دی.

په دې کتنه کي همدا رنګه د سیمي د وضعیت په تړاو، دواړو لورو د ثبات او امنیت پر اهمیت تینګار کړی او له ګاونډیو هیوادونو سره یې د اړیکو د پیاوړتیا، رغنده تعامل او سیمه‌ییز ثبات له پاره د ګډو هڅو پر اړتیا خبري کړي دي.

۴مخ

په لومړي وار متحده عربي اماراتو ته د الوچې صادرات پیل سول



د کندهار د کرهڼي او بو لګولو او مالدارۍ ریاست ویاند محمد حنیف حقمل ویلي، د یو خصوصي شرکت په مالي ملاتړ، له کندهاره په لومړي وار متحده عربي اماراتو ته د ۲۰ ټنه الوچې د صادرولو لړۍ پیل سوې چي اوس مهال یې دوه ټنه صادرات تر سره سوي دي.

د یاد شرکت مسئولینو ویلي، لومړي مو یو ټن صادرات عربي اماراتو ته د بازار آرزوني په موخه تر سره کړل، چي مثبته پایله یې درلوده او اوس مهال د دوهم ټن صادرات پیل سوي، چي د راتلونکو ۲۰ ورځو په اوږدو کي به یاد هیواد ته ۲۰ ټنه د الوچې صادرات تر سره سي.

د یادوني وړ ده، چي د ورته صادراتو په زیاتېدو سره به د الوچې بیه لوړه او په کور ننه کي به د بزګرانو عاید نور هم ښه سي.

په صنعتي پارک کي د اطفائیې نوې څانګه پرانیستل سوه



د کندهار د امنیې قوماندانۍ ویاند ملا اسد الله جمشید ویلي، د کورنیو چارو وزارت له لوري د دې ولایت په صنعتي پارک کي د شپږ میلیونه او اووه سوه زره افغانیو په ارزښت، د اطفائیې نوې څانګه پرانیستل سوې چي یو منظم تعمیر او ټولي اسانتیاوي لري.

مسئولین زیاتوي، د دغه مرکز په پرانیستلو سره به د اطفائیې کارکوونکي وکولای سي، په څو دقیقو کي د اورلګېدني ځای ته ځان ورسوي.

د (پسرلنی جام) په نامه د والیبال بازیو ټورنمنټ پیل سو



د کندهار د پوهنتون د محصلانو د خدماتو او همږغۍ آمریت اړوند، ورزشي عمومي مدیریت، په پوهنتون کي د یوولسو پوهنځیو ترمنځ د (۱۴۰۵ ل) کال د پسرلني سمیستر د والیبال بازیو ټورنمنټ پیل کړ، چي یاد ټورنمنټ، د لیګ په سیستم پیل سوی او د غویي (ثور) میاشتي تر ۲۲مې نېټې پوري به دوام ولري او بازۍ به یې هره ورځ د سهار له خوا تر سره کېږي.

۴مخ

له زرونو اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وسوه



د توحید مؤسسې په همکارۍ او د مرکز ملک سلمان خیریه بنسټ په مالي ملاتړ، په کندهار ولایت کي له درو زرو اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته تر سره سوه.

د یادي مؤسسې مرستیال شاه زمین هلال باختر خبري آژانس ته ویلي، دغه مرستې د بې وزلو، غریبو، داخلي بې ځایه سوو، سېلاب ځپلو او له بهره راستنو سوو مهاجرو کورنیو ته ووېشل سوې.

د هغه په قول، په دې مرستو کي پنځه قلمه خوراکي توکي شامل دي، چي ۵۰ کیلو اوړه

۴مخ

له پېښو سره د مبارزې ریاست له ۲۱ کورنیو سره مرسته وکړه



په کندهار کي د ۲۱ زیانمنو سوو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته وسوه

له پېښو سره د مبارزې او آمادګۍ ریاست ویاند نجیب الله رحماني ویلي، د طبیعي او غیر طبیعي پېښو له امله ۲۱ زیانمنو سوو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشل سوې.

په یاده مرسته کي هري کورنۍ ته سل کیلو ګرامه غنم، دوه عدده څراغونه او نور د ضرورت وړ توکي ورکول سول.

ښېره دي نه وي چي تر دې مخکي هم یاد ریاست له سېلاب ځپلو کورنیو سره ورته مرسته کړې وه.

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

ليکوال: عبدالله فاراني (اشتياق احمد رح) ژباړه: مولوي محمد اکبر ۳۹ برخه

خليفه وويل :

صحيح ده؛ تاسو پر حق ياست!

يووار منصور د ده څخه وپوښتل :

د مځکي پر مخ تر تاسو ستر عالم سته؟

امام مالک رحمه الله په جواب کي ورته وويل :

هو! تر ما هم ستر عالم سته!

منصور وويل : نوم يې را وښيه!

ده جواب ورکړ :

زما د هغه نوم په ياد نه دی!

منصور وويل :

زه غواړم... ستا کتاب مؤطا عامه کړمه... د لښکرو اميرانو، د ښارونو قاضيانو ته وليکم، چې دا زده کړئ... همدا نافذ او رواج کړئ... څوک چې د دې مخالفت وکړي، د هغه سر ورغوڅ کړئ!

امام مالک صاحب وويل :

اميرالمؤمنينه! نبي کريم صلي الله عليه وسلم د امت له پاره الگو يا نمونه دی. نبي عليه السلام به د سريې له پاره لښکري لېږلې، د ده په ژوند کي ډېرې هيوادونه نه دي فتح سوي، تر دې وروسته ابوبکر الصديق دا خدمت وکړ، مگر په هغه وخت کي هم ډېرې ملکونه نه دي فتح سوي، تر ده وروسته عمر فاروق خليفه سو، د نوموړي په لاس ډېر ملکونه فتح سول، هغه صحابه کرام فتحه سوو سيمو ته د ښوونکو يا معلمينو په صفت ولېږل، د هغوی څخه د علم د زده کړي لړۍ روانه وه او تر نن پوري هم روانه ده، که تاسو د صحابه کرامو د شاگردانو په شاگردانو کي مؤطا خپره کړی، نو په دې صورت کي به فتنه جوړه سي... د هر ښار خلک د هغوی پر علم پرېږده او تاسو زما په علم عمل وکړی!

منصور چې دا خبري واورېدلې، و يې ويل :

څومره پر مستقبل بينۍ ولاړه خبره ده، تاسو زما د زامنو له پاره دا علم وليکئ يعنی مؤطا امام مالک رحمه الله.

هارون الرشيد د حج په موسم کي مدينې منورې ته راغی، امام صاحب ته يې د ۵۰۰ دينارو يوه غوټه وړاندي کړه، کله چې د حج څخه فارغ سو، نو بيا مدينې منورې ته راغی، امام صاحب ته يې وويل :

زما غوښتنه ده، چې تاسو زما سره تر بغداد پوري ولاړ سئ!

امام صاحب د ده د غوښتني په جواب کي دا خبره ورولېږله :

هغه د دينارونو غوټه هغسي پرته ده، نبي عليه السلام فرمايي: مدينه منوره د خلکو په حق کي ښه ده، که هغوی په دا خبره پوه سي.

د دې جواب په اورېدلو سره هارون الرشيد خپله اراده پرېښووله.

له امام صاحب سره حسد کوونکو يوه ورځ منصور ته وويل :

امام مالک ستاسو بيعت ناروا گڼي او د عباسي خلافت منکر دی.

منصور ته درد ورغی، په امام صاحب يې قميص وکښی او پر بدن يې په درو ووهی، د درو څخه يې يو لاس مړ سو، مگر دې پېښې د نوموړي په عزت کي نور زياتوب راوستی او دا درې د ده د عظمت نښه جوړه سوه، په عوامو او خواصو کي يې مقبوليت ډېر سو.

سفيان بن عيينه د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت کړی دی :

نبي عليه السلام فرمايي: ژر دی چې خلک به د علم په طلب کي پر سپرليو سفر کوي او د مدينې تر عالم به ستر عالم پيدا نه کړی.

نور بيا...

د اسلامي نظام اړتيا، گټې او اطاعت

حسان مجاهد

اسلام د الله تعالی هغه وروستی او بشپړ دين دی چې د دنيا او آخرت ټولي نېکمرغۍ په کښي نغښتي دي، خو دا گټې هغه وخت په پوره توگه ترلاسه کېدلای سي چې په ټولنه کي اسلامي نظام حاکم وي او د الله تعالی قوانين عملي سي.

اسلام يوازي د فردي يا کورني ژوند دين نه دی، بلکي اسلام د ټولنيز، سياسي، اقتصادي او نړۍوال نظام له پاره هم بشپړ لارښود دی، نو تر هغه وخته هيڅ يو هيواد په رښتيني ډول اسلامي نه بلل کېږي، ترڅو چې قوانين او نظام يې د اسلام له اصولو سره سم نه وي.

کله چې له کومي ټولني اسلامي نظام ليري سي، نو ډېر ژر اخلاقي فساد خپرېږي، ناامني او گډوډي رامنځته کېږي او د خلکو ژوند له ستونزو او کړاوونو سره مخ کېږي.

برعکس؛ کله چې اسلامي نظام قائم سي، نو سمدستي عدالت ټينگ سي، امن خپور سي او خلک له آرام او سوکاله ژونده خوند واخلي.

د اسلامي نظام گټې:

۱– د امن او ثبات ټينگښت :

د اسلامي نظام تر سيوري لاندي د خلکو ځانونه، مالونه او عزتونه خوندي کېږي او په ټولنه کي سکون او ډاډ رامنځته کېږي.

۲– د عدالت پلي کېدل :

په اسلامي نظام کي عدالت پلي کېږي؛ مظلوم ته خپل حق ورکول کېږي، ظالم مهار کېږي او د خلکو ترمنځ شخړي په انصاف سره حل کېږي.

۳– د جرمونو مخنيوی :

کله چې په اسلامي نظام کي شرعي حدود او قوانين په سمه توگه تطبيق سي، نو ټولنه له فسادونو ژغورل کېږي او د جرمونو کچه صفر ته راکښته کېږي.

۴– له بېوزلو سره مرسته :

په اسلامي نظام کي د ټولني کمزوري اشخاص لکه: يتيمان، کونډې، بېوزله، معلولين، غمځپلي او اړمن خلک هېر نه وي، بلکي له هغوی سره مرسته کېږي او هغوی ته د ژوند اسانتياوي برابرېږي.

۵– ټولني ته د غربت څخه نجات ورکول :

اسلام نظام خلکو ته داسي قوانين ټاکلي چې هغوی په شرعي توگه له خپلو مالونو او حاصلاتو زکات، عشر او خراج ادا کړي، ترڅو په مالونو او حاصلاتو کي نور هم برکت پيدا سي، په مسلمانانو کي د خپلمنځي همدردۍ روحيه ژوندۍ سي او ټولنه له غربته راووځي.

۶– د اقتصادي نظام اصلاح :

په اسلامي نظام کي د هغو سوداگريزو چارو، معاملاتو او راکړي–ورکړي مخه نيول کېږي چې د قمار او سود په بڼه تر سره کېږي او له امله يې خلک په شخړو او فسادونو کي ښکېل کېږي، چې دا کار د اقتصاد پاکوالی او ثبات تضمينوي.

۷– د ديني ارزښتونو ساتنه :

په اسلامي نظام کي مسلمانانو ته امر کېږي چې خپل اسلامي ارزښتونه وساتي او چاته اجازه نه ورکړي چې د کفري ملتونو رواجونه او کلتوري کارونه خپل کړي، ترڅو مسلمانان له بې لارۍ او فکري انحرافه وژغورل سي.

په لنډه توگه ويلای سو چې په اسلامي نظام کي د دنيا سکون او د آخرت کاميابي نغښتې ده او همدا نظام دی چې د انسان ټولي نېکمرغۍ په بشپړه توگه تضمينوي.

د اسلامي نظام د مشرانو اطاعت :

اسلامي نظام يو ماهر، عادل او مخلص رهبر ته اړتيا لري او له هغه پرته نظام نيمگړی وي.

د اسلامي نظام د ټينگښت له پاره الله تعالی مسلمانانو ته دا مهمه دنده سپارلې ده چې د خپل مشروع اسلامي نظام د مشرانو اطاعت وکړي.

کله چې په اسلامي نظام کي کوم رهبران واک ته ورسېږي، نو تر هغه وخته پوري چې د اسلامي شريعت په چوکاټ کي حکومت کوي، د الله تعالی او رسول صلی الله عليه وسلم د احکامو پابند وي او د هغوی څخه ښکاره کفر نه وي څرگند سوی، نو د هغوی اطاعت پر رعيت واجب دی.

په اسلامي فکر کي واکمن يو عادي شخص نه دی، بلکي يوه ستره هستي ده، چې په حديثونو کي ورته د "ظل الله في الأرض" (په مځکه کي د الله د رحمت سيوری) ويل سوی، همدارازتر الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم را وروسته د واکمن اطاعت پر خلکو واجب دی او د هغه نافرماني د الله تعالی او نبي کريم صلی الله عليه وسلم نافرماني بلل سوې ده، ځکه د واکمن په لاس عدالت ټينگېږي، امن رامنځته کېږي او د خلکو حقوق ساتل کېږي.

مسلمانان بايد د خپل مشر هر شرعي امر ومني، د نظام ټولو پرېکړو او قوانينو ته درناوی وکړي، د نظام ملاتړ وکړي او له بې ځايه مخالفت او گډوډۍ څخه ځانونه وساتي، ځکه اسلامي نظام يو ستر نعمت دی او د دې نعمت بقا او قوت په دې پوري تړلی دی چې رعيت د نظام اطاعت وکړي.

په نني اسلامي نظام کي د محصل قدر

احمد "خاطري"

د افغانستان په هيڅ يو حکومت کي د محصل دومره قدر نه دی سوی، لکه په نني اسلامي نظام کي!

محصلان د هيواد هغه لويه سرمايه ده چې د نظام او ولس هيلو ته تحقق ورکوي، ځکه يې نو اسلامي نظام د دوی هغسي قدر کوي لکه: ور سره ښايي چې، زه د يو عيني شاهد په توگه د کندهار پوهنتون يو څو بېلگي شريکوم :

۱– د کندهار پوهنتون مسافر محصلين پخوا د کرايې په ځايونو کي اوسېدل چې له اقتصادي ستونزو سره به مخ وو او ۱۸۰۰ افغانۍ بدل اعاشې به ورته کفايت نه کاوه، خو تېر کال د قدرمن وزير صاحب په هدايت ورته دارالصالحين په نامه ليليه فعاله سوه، چې اوس يې هم د خوراک ښه انتظام برابر دی (په اوونۍ کي لازمه اندازه وريجي، غوښې او مېوې ورکول کېږي) چې د مياشتي د يو محصل پر سر تقريباً ۷۰۰۰ افغانۍ لگښت، نظام پرې کوي او هم د مطالعې آرام او مناسب چاپېريال ورته مهيا سوی دی.

۲– په آزموينو کي شفافيت ډېر زيات سوی چې د محصل استعداد يې لوړ کړی او مجبور دی چې درسونو ته ښه متوجې سي. دا چاره په هر لحاظ د هيواد، د ټولني او هم خپله د محصل او کورنۍ په گټه ده چې سبا په خپل مسلک کي يو مستعد شخصيت ورڅخه جوړ سي.

۳– د ممتازو او برياليو محصلينو ليست هر کال د نظام له لوري غوښتل کېږي، ترڅو پر دندو وگمارل سي، د علم او استعداد څخه يې نظام او کورنۍ ته خير او گټه ورسېږي.

۴– د پوهنتون رهبري کوښښ کوي چې د محصل د عملي کار په برخه کي د ده اړتياوي پوره کړي او اړوند امکانات ورته برابر کړي.

۵– دومره شفقت او د ښو اخلاقو چلند چې د پوهنتون د رهبرۍ له خوا له هر محصل سره کېږي، فکر نه کوم چې بل وخت دومره غوره چلند ورسره سوی وي.

په دې نژدې تېر کوچني اختر کي تقريباً د ۷۰ شاوخوا مسافر محصلين کورونو ته نه دي تللي او دلې پاته وو. په داسي حال کي چې هرڅه رخصت وو، خو د پوهنتون د رئيس شيخ طيبي په ځانگړې لارښوونه د رخصتۍ ټوله موده ورته د ډوډۍ انتظام وسو او د اختر د مبارکۍ او مناسبت ترتيب هم ورته برابر سو.

۶– د محصل په فکري او اسلامي روزنه کي تر دې حده زيار ايستل سوی چې اوس د اکثريت محصلينو او طالب العلمانو توپير نه کېږي، سيرت او صورت يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر طريقه او له افغاني کلتور سره برابر دی چې دا د مسلمان افغانستان د مسلمان محصل د دنيا او آخرت په گټه ده.

۷– د عصري او ديني علومو د زده کوونکو او استادانو تر منځ ليري والی او حساسيت بېخي تر ډېره له منځه تللی او پر يوه تغر د مينې او الفت خوشحاله ژوند کوي.

لنډه دا چې يادي بېلگي او موارد د مشت نمونه خروار په توگه د يو پوهنتون واقعي حالت انځوروي، نو څه فکر کوی چې دا مشفق نظام او مشران چې محصلان د خپلو اولادونو غوندي روزي او د پرمختگ هڅې يې کوي، بيا به د يو داسي پېښې تصور قصداً ممکن وي چې په هغه کي خدای مه کړه د محصل سپکاوی وي؟ نه! هيڅکله نه.

محصلان چې لوستي او هوښيار ځوانان دي، هيڅکله به د دښمن په شايعاتو دوکه نه سي او نه به هم پر خپل نظام او مشرانو باور له لاسه ورکړي.

د تقلید شرعي حکم

پوهیالی عبدالله خان "سنګري"
دوهمه برخه

تقلید (پیروي) پېژندنه:
تقلید یو عربي لفظ او د قَلَّدَ مصدر دی، چې په لغت کې په غاړه کې د یو شي اچولو ته ویل کېږي. (ابوحبیب،۱۹۸۸م)

د تقلید اصطلاحي معنا: د اصول فقه علماوو د تقلید له پاره ډېر تعریفونه ذکر کړي دي. دلته هغه دوه تعریفونه رانقل سوي، کوم چې د اختلاف لامل ګرځېدلي دي.

۱ – «هو أخذ قول الغیر من غیر معرفة دلیله» (هیئة الکبار العلماء،۲۰۰۸م).
ژباړه: له دلیل پېژندلو پرته، د بل د خبرو پیروي کولو ته تقلید ویل کېږي، څکه داسي ویل کېږي په فلاني شي کي یې د هغه تقلید (پیروي) وکړه. لکه یو اُمي چې د مجتهد قول اخلي او عمل ورباندي وکړي، دې ته تقلید ویل کېږي. د بېلګي په توګه؛ د سر په ځیني حصه مسحه کي د امام شافعي رحمه الله پیروي کول او په جماعت سره په لمانځه کي د فاتحې په نه لوستلو کي د امام ابوحنیفه رحمه الله پیروي کول.

۲ – «هوقبول قول الغیر من غیر حجة» (السلیمي، ۲۰۱۱م)
ژباړه: د کوم دلیل څخه پرته، د بل پیروي کولو ته تقلید ویل کېږي.

د تقلید مخینه:
د اسلامي فقهي د تدوین او د هغې د تاریخي سیر د څېړلو څخه دا معلومېږي، چې تقلید د خیرالقرون تر تېرېدو وروسته د څلورمي هجري پېړۍ په لومړیو کي رامنځته سو. امام شوکاني رحمه الله په دې اړه داسي ویلي دي: تقلید د خیرالقرون تر تېرېدو وروسته راڅرګند سو، څکه د څلورو امامانو (ابوحنیفه، مالک، شافعي او احمد بن حنبل رحمهم الله) څخه وروسته، د مذهب د پیروۍ مسائل راپیدا سول او څلور سره امامان د سلفو پر لار روان وو، چې د تقلید څخه یې خلک منع کول او اهمیت یې نه ورکاوه. ذکر سوي مذهبونه د امامانو د اجازې پرته، د دوی اُمي پیروانو د خپلو ځانونو له پاره تأسیس کړي دي. (زحیلي، ۲۰۰۵م)

د تقلید ډولونه:
د مجوزینو په آند تقلید پر دوه ډوله دی:
۱ – محمود یا روا تقلید.
۲ – مذموم یا حرام تقلید.
محمود (ستایل سوی) تقلید د هغه کس د تقلید (پیروۍ کولو) څخه عبارت دی چې د اجتهاد څخه عاجز وي، څکه هغه په خپله د دې توان نه لري چې شرعي حکم ته ورسېږي، نو پر ده باندي لازمه ده چې د یو داسي شخص پیروي و کړي چې د شرعي حکم ښوونه ورته وکړي.
مذموم یا حرام تقلید پر درې ډوله دی:
۱ – هغه تقلید چې د الله تعالی د حکم څخه په کښي مخ اړونه وي، لکه: د پلرونو او مشرانو پیروي کول، چې په قرآنکریم کې د دې ډول تقلید بدي بیان سوې ده. الله تعالی د سورة البقرة په ۱۷۰ نمبر آیات کي فرمایي:
ژباړه: هغوی ته چې کله ویل کېږي، چې د الله تعالی د اوامرو پیروي وکړئ، نو په جواب کي یې وایي: موږ به د هغه مسلک پیروي کوو، چې موږ پر هغه باندي خپل پلرونه او نیکونه موندلي وي، که څه هم د هغوی پلرونو او نیکونو له پوهي نه هم هیڅ کار نه وي اخیستی او سمه لار یې نه وي موندلې بیا هم د دوی پیروي کوي.
۲ – د هغه کس تقلید هم حرام دی، چې د اجتهاد اهلیت یې مجهول وي، یعني مقلّد (پیروي کوونکی) په دې باندي نه وي خبر چې زه د کوم شخص پیروي کوم، آیا هغه د اجتهاد اهلیت لري او که نه؟
۳ – تر دلیل څرګندېدو وروسته هم تقلید کول حرام دی. هر کله چې یو شخص ته دا روښانه سي چې حق له هغه شخص سره دی، کوم چې د تقلید کړل سوي شخص مخالف دی، پر ده باندي لازمه ده چې تقلید پرېږدي او د حق پیروي وکړي. (زحیلي،۲۰۰۵م)

کوم قرآني آیتونه او نبوي حدیثونه، چې د تقلید په ذم کي راغلي او یا علماوو ور څخه منع کړې ده، د همدې ډول تقلید په اړه دي او د مذهبونو امامانو هم له دې ډول تقلیده منع کړې ده.
امام شافعي رحمه الله ویلي: هغه شخص چې د دلیل څخه پرته علم زده کوي، د هغه لرګي ورونکي مثال لري، چې د شپې پر مهال لرګي وړي، په هغو کي مار وي، دی وچیچي او پرې خبر نه وي چي ما خو مار په شا کړی دی.
امام ابوحنیفه او ابو یوسف رحمهم الله ویلي:
ژباړه: هیچاته روا نه دي، چې زموږ خبره (پیروي) وکړي، ترڅو ورته دا معلوم نه وي چې موږ د کوم ځای څخه کړې ده. (الجوزیه، ۱۹۹۱م)
امام احمد (رحمه الله) ویلي:
ژباړه: زما پیروي مه کوی! د امام مالک، ثوري او اوزاعي رحمهم الله پیروي هم مه کوی، د هغه ځای څخه اخیستنه وکړی، د کوم ځای څخه چي دوی کړې ده. (الجوزیه، ۱۹۹۱م)
د امامانو د وینا څخه څرګندېږي، چي په پټو سترګو د یو شخص پیروي لازمه نه ده.

نور بیا...

دورکي اعلانونه

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د خلیل الرحمن د جمعه خان د زوی او د عبدالصمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0700472525

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د سید احمد د شېر احمد د زوی او د محمد شریف د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0700404461

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د حمیدالله د شېر محمد د زوی او د عبدالحلیم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0711858434

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د عبدالمناف (شبیر آغا) فاخلک د زوی او د اولی خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0706489895

دوې قطعې بریښنایي تذکرې چې هیبت الله د خیال محمد د زوی او د عبدالمحمد. سید احمد د عبدالمحمد د زوی او د صاحب جان د لمسیانو په نومونو دي، ورکې سوي دي، هر چا که پیداکړي وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0701006530

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د حکمت الله د دلاسا د زوی او د سیف الله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0700390906

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د عطا محمد "زمری" د عطا محمد د زوی او د حاجي سلطان محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0700188481

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د بهادر الرحمن رحماني د حاجي فدا محمد د زوی او د آغا محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0703938188

دورکي اعلانونه

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د محمد اسماعیل د عبدالقاهر د زوی او د محمد رسول د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0702733683

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د ادریس احمد آغا د بهلول جان آغا د زوی او د عبدالنبي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0703726806

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د بلال احمد د حاجي فضل محمد د زوی او د حاجي محمد اسحاق د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0702526494

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د فاطمه د غلام رسول د لور او د ملک محمد د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0707777441

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د عزت الله د عبیدالله د زوی او د حاجي عبدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0700353776

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د فیض محمد هارون د عبدالقدوس د زوی او د شېر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0707591643

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د حبیب الله د حاجي عبدالرحمن د زوی او د حاجي فیروز د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0706602353

یوه قطعه بریښنایي تذکره چې د احمد الله ارماني د محمد افضل د زوی او د لعل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 07034341852



د طلوع رنګیني وړانګې

ولسوال یمه زه

عصمت الله "څاروان"

قلمه نن یوه خاطره لیکمه
راته یې ولیکه په ښو الفاظو
کلونه وروسته مې یو درد د زړګي
د شعر په ژبه باندي باسمه زه
چي د یو چا بدرنګ انځور وکاږم
غواړم بیان کړم د یو چا بې وسي
د ماشومتوب یاد د چا نه هېرېږي
سهار مې واخیسته بسته د مکتب
یو ځای د کلي له ملګرو سره
رهي سوو موږ د خپل مکتب پر لوري
مکتب د کلي څنګ ته کلي کي و
په دغه لاره به ډېری وختونه
د امارت او جمهوریت جګړه وه
موږ هم عادت وو له ټکانو سره
چي به جګړه نه وه بیخي به دیغ و
راځم کېسې ته کیسه دغسي وه
په دغه شپه حکومت چاپه ولې وه
امریکایان هم ور سره وو معمول
شهیدان کړي یې وو دوه کلیوال
کلي یې هم تلاښي کړی و تول
وروسته یو څو عسکر مکتب ته راغلل
د یوه اوره کي یو ټکه ټوپک و
له قواري نه قوماندان ښکارېدو
مکتب کي دا وخت د تفریح وخت و
راته یې ږغ کړ موږ ته دلته راسئ!
موږ هم پلمه غوښته راټول سوو باندي
ویل یې ګورئ ولسوال یمه زه
که هر مشکل لرئ نو وایاست راته
که معلمان درباندي ظلم کوي
یا کتابچې او بیسکوټ نه درکوي
نو فقط ووایاست چي لت ورکړمه
لت داسي لت ورکړم چي بیا و نه کړي
د شپې مې دې کلي کي دوه طالبان
د پاکستان غلامان ووژله
دغه ټوپک مې تري را واخیستلو
ده لا اپلتي خلاصي کړي نه وې
چي ملازم صاحب شپېلکه پو کړه
موږ په شپېلکه غوړوه نه ایستلو
د ولسوال صاحب وینا ته غوږ وو
دې وخت کي زموږ یو معلم صاب راغی
پر موږ یې ږغ وکړ چي ځئ صنفو ته
خو ولسوال په ډک بوتل دا وبو
زموږ معلم صاحب پر مخ وویشته
لکه چي تاته زه کافر ښکارېږم
چي شاګردان را نه شړې صنفو ته
د سپي په څېر خوله یې را خلاصه کړله
معلم صاحب تې سپکي سپوري وکړې
خو د معلم صاحب په وس کي څه و
اوښکي یې ډنډې ډنډې سترګو کي سوې
د یو جابر ترخې ترخې خبرې
خاموش ولاړ و ټولي وزغملې
آخر کي داسي څه تر خوله ووتل
زما په غوږونو کي ترننه ګرځي
خیر پرېږدم دي که معلم نه وای نو
د هغو دوو غوندي به اوس مردار وای

مسئول مدير: بريالی "فيضي"
د تصحيح مسئول: حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډيزاين: نصير احمد "صابر"
د مديريت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبيبي واټ – اطلاعات او فرهنګ رياست
د برېښناليک پته: baryafaiz981@gmail.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتيا!
د طلوع افغان تاريخي خپرونه چي د هيواد په مطبوعاتي تاريخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمريز کال په آخرکي د طلوع افغان تاريخي ورځپاڼي يو بشپړ کلکسيون ولری، په طلوع افغان ورځپاڼه کي ګډون وکړئ.
د ګډون کلنۍ بيه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلينو ته د تصديق په وړاندي کولو سره نيمه بيه ټاکل سوې ده. اداره



طلوع افغان مديريت له ټاکلي ليکنيز معيار سره سم، د ليکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.
ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هيله کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼي بې ځايه و نه غورځوئ!

Established in 1300 Hijri | ISSue: 8 | Founded in 1921

اعلانونه او خبرتياوي

د تېلو قرارداد کوي

دافغانستان د کرهنيزو علوموا و ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناسټو) رياست غواړي چي د ۱۴۰۵ مالي کال له پاره د حيواني کلېنيک قرارداد عقد کړي. ټول هغه شرکتونه چي پر شرايطو برابر وي، کولای سي، چي خپل غوښتنليکونه د ۱۴۰۵ ل کال د غويي مياشتي پر اوومه نېټې د بيا د روان کال د همدې مياشتي تر د يرشمي نېټې پوري د (۲۱) ورځو پوري د ياد پوهنتون د تهيه او تدارکاتو آمريت او ولايت مقام مالي او اداري رياست ته وسپاري، شرطپاڼه او آفر دي ترلاسه کړي.

د آفر پرانيستلو غونډه د روان کال د غويي مياشتي پر ۳۱ نېټه، پنجشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د تعين سوي کمېټې په حضور کي، د ولايت مقام په مالي او اداري رياست کي تر سره کېږي.

آدرسونه: ولايت مقام او اناسټو پوهنتون، قول اردو شاته. د تماس شمېره: 0705303519

زياتوونکي غواړي

يوه قطعه مځکه چي (300M) متره مربع مساحت لري، چي په ۱۱ ناحيه، عينو مېني پر ۳۸ سړک موقعيت لري، چي د درو رهنمايانو له لوري في متر مربع په مبلغ ۲۸۳۰/۰ – دوه زره اته سوه دېرش افغانۍ قيمت سوی دی. هر هغه څوک چي ياده مځکه تر پورته ذکر سوي قيمت په اضافه نرخ غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي تر لسو ورځو پوري د مرافعې محکمې له لوري تعين سوي هيئت ته وسپاري او يا دي پر ذکر سوې شمېره تماس ونيسي: 0704612031

ورکي اعلانونه

څه وخت وړاندي د عينو مېني د ملکيت يو سند چي د خليل احمد د محمد داؤد د زوی او احمد ضياء د محمد داؤد د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبرونه يې (2)، موقعيت (E1-31) او د فايل نمبر (19745) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يا دي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي او يا دي په دې شمېرو تماس ونيسي: 0700000149 – 0700305088

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د موږکه د فيض محمد د لور او د عبدالحليم د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703270939

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د حکمت الله د محمد غلام د زوی او د حاجي اختر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0704276705

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د حميدالله د حاجي باران د زوی او د نظر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0706389448

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د بلال خان د سيف الله د زوی او د شينکي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0704655718

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د سميع الله د محمد الله د زوی او د عبدالحي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700680486

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د صبغت الله بلوچ د حاجي محب الله د زوی او د نصرت الله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700335226

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د ګل احمد د حاجي روزي محمد د زوی او د حاجي جلال الدين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700304189

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د حزب الله د سيد جان د زوی او د فضل محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700859956

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عبدالصمد هوتکي د امين الله د زوی او د عبدالله جان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0706341244

(۱) مخ پاته: **د بهرنيو چارو وزير: د افغانستان او روسيې...**

ورته مهال د روسيې فدراسيون د ولسمشر ځانګړي استازي د افغانستان او روسيې ترمنځ، د اړيکو مثبت بهير ستايلی او څرګنده کړې يې ده چي هيواد يې چمتو دی، له افغانستان سره اقتصادي همکاريو ته، په ځانګړي ډول: د سوداګرۍ، انرژۍ او ترانزيټ په برخو کي عملي بڼه ورکړي.

هغه زياته کړې، روسيه غواړي د ګډو اقتصادي پروژو، پانګوني او بنسټيزو همکاريو له لاري، د دواړو هيوادونو ترمنځ، اړيکي لا پياوړې کړي او د سيمې د ثبات ترڅنګ، اقتصادي اتصال ته هم وده ورکړي.

د بل خبر له مخي د افغانستان برېښنا شرکت اجرائيوي رئيس ملا عبدالحق همکار د فدراتيفي روسيې پلازمېني مسکو ته د خپل سفر په بهير کي په داسي حال کي چي د افغانستان اسلامي امارت سفير مولوي ګل حسن حسن يې ملتيا کوله، د روسيې د انرژۍ له معين ولاديمير خازوف سره کتلي دي.

د افغانستان برېښنا شرکت په خپره سوې خبرپاڼه کي راغلي چي په دې کتنه کي د افغانستان برېښنا شرکت اجرائيوي رئيس، د انرژۍ په برخه کي د دوه اړخيزو همکاريو پياوړتيا مهمه وبلله.

همدارنګه د روسيې د انرژۍ وزارت معين، د انرژۍ په برخه کي له افغانستان سره د همکاريو ژمنه کړې او ويلي يې دي، چي له افغانستان سره د انرژۍ او اقتصادي اړيکو او همکاريو پراختيا د دوی د هري ناستي په اجنډا کي ځای لري او په دې برخه کي په دوامدار ډول کار کوي.

د کتني په پای کي افغان چارواکو د افغانستان او روسيې ترمنځ، پر سوداګريزو برخو سربېره، د برېښنا انرژۍ او تخنيکي برخو کي هم د همکاريو او اړيکو پراختيا مهمه بللې ده.

(۱) مخ پاته: **د (پسرلنی جام) په نامه د واليبال...**

د تېر نمينځ د پيل په مراسمو کي د کندهار پوهنتون ورزشي مديريت مسئول جميل احمد همت د کندهار پوهنتون د ورزشي کمېټې له مسئولانو مننه وکړه، چي د خپلو لوبډلو د نظم او تشويق په موخه يې تشريف راوړی او هيله يې وښووله، چي د تېر نمينځ تر پايه ټول مسئولان د ښه سمون او نظم په موخه همکار پاته سي.

د يادولو وړ ده، چي د تېر نمينځ په پيل کي لومړۍ بازي د انجنيري پوهنځي او اقتصاد پوهنځي لوبډلو تر منځ وسوه، چي د انجنيري پوهنځي په بريا پای ته ورسېدله.

(۱) مخ پاته: **له زرونو اړمنو کورنيو سره د خوراکي...**

پنځه نيم کېلو بوره، پنځه کېلو لوبيا، پنځه کېلو وريجي او پنځه لېتره غوړي شامل دي، چي د يادو کورنيو لومړنۍ اړتياوي به د يوې مودې له پاره پوره کړي.

بل لور ته د مهاجرينو او بيرته راستنېدونکو چارو رياست د کډوالو امر مفتي نعمت الله الفت د ياد خيريه بنسټ له همکاريو مننه وکړه او له نورو خيريه بنسټونو يې وغوښتل چي د بې وزلو خلکو لاسنيوی زيات کړي.

همدارنګه د مرستو ترلاسه کوونکو خوښي څرګنده او ويلي يې دي، په مهم وخت کي د دوی ملاتړ سوی دی. هغوی له دولت او مرستندويو بنسټونو غوښتنه کړې، چي په راتلونکي کي هم ورته مرستي دوام پيدا کړي.

ورکي اعلانونه

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د علي محمد حيدري د فقير محمد د زوی او د باز محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0708367899

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د عزت الله د ننګيالی د زوی او د عبدالمنان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0707607784

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د شېر احمد د عطا محمد د زوی او د فضل احمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703099717

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د قدرت الله د احمد ضيا د زوی او د حاجي محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0706520748

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د سيد رحيم د سيد رحمت الله د زوی او د سيد عمر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0702532998

❋❋❋

يوه قطعه برېښنايي تذکره چي د محب الله د حاجي محمد رسول د زوی او د حاجي عبدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700360010

ټولنيزي رسنۍ

نصير احمد "پتمل":

انسان چي کله تر حد ډېر مخلص سي، نو د خپلو احساساتو ساتنه ځني هېره سي.

Emal pasarly:

د برياليتوب د راز په اړه مي ولوستل:
"يوه سلنه: بخت.
دوه سلنه: استعداد.
۲۰ سلنه: له نورو خلکو سره ګذاره او ښه چلند.
۷۷ سلنه: ماته نه منل، که هر څنډ وي، که هر څنډ وي زړه ماتي نه سي، بيا او بيا هڅه."

تاسو ته کومه برخه مهمه ده؟
زما په فکر له نورو سره ګذاره او ښه چلند بايد تر ۲۰ سلني ډېر وای، يو څو سلنه بايد دا هم وای چي په کار کي لټي او ځان پټول هم نه وي، بلکي په داسي مينه کار وي چي بيا په کار پسي تاسو ولاړ نه سي، بلکي کار په تا پسي درسي.

حافظ بشير:

ملګرو!
له جذباتو کار مه اخلئ، د خپلو مشرانو او اميرانو اطاعت وکړئ، د يوې سختي او اوږدمهالي غزا له پاره تياری وکړئ، شهادتونو، سختيو او زخمونو ته يو وار بيا ځانونه آماده کړئ، زموږ پر هيواد راغلي آزادي دا نجس قوم نه سي زغملای او پر قراره مو نه پرېږدي!

Shamsullahshams:

دا اغېزناکي زده کړي غوره لاره؛ د R3 طريقه:
اکثر زده کوونکي شکايت کوي چي "ډېر درس وايم، خو هېرېږي مي." ستونزه ستاسو په حافظه کي نه، بلکي ستاسو په تګلاره کي ده. يوازي لوستل کفايت نه کوي، تاسو بايد خپل ذهن دې ته آماده کړئ چي معلومات پروسس کړي.
– د R3 طريقه څه ده؟
دا فارمول په درو ساده خو بنسټيزو ګامونو ولاړ دی:
۱ – (Read ولولئ): موضوع په ډېر تمرکز سره ولولئ. دلته موخه يوازي تېرېدل نه، بلکي په موضوع مفهوم پوهېدل دي.
مهم ټکي په نښه کړئ!
د متن ترمنځ منطقي تړاو پيدا کړئ!
۲ – (Recall په ياد يې راوړئ): دا تر ټولو مهمه مرحله ده. کتاب وتړئ او هڅه وکړئ، هغه څه چي مو ولوستل، در په ياد يې کړئ.
خپل ځان ته يې داسي تشريح کړئ لکه يو ماشوم ته چي درس ورکوئ!
هڅه وکړئ مهم اصطلاحات په لوړ ږغ ووایاست!
۳ – (Review بيا کتنه): خپل يادښتونه له کتاب سره پرتله کړئ. وګورئ چي کوم ځای مو هېر کړی يا مو غلط فهمي په کښې کړې وه.
خپلي تېروتني اصلاح کړئ!
هغه برخي چي ستونزمني وي، يو ځل بيا يې په دقت وګورئ!